# دامریکی اودپنجاب غلامان

یوه وخت ټول غلیمان بی له جنګ ورته تسلیم وه
د ا فغان په سردرو کي د آزادی تا زه نسیم وه
له هیبت یی په لند ن کی انګریزان ټول لرزید ل
د افغان له توری شرنګ نه پخپل کورکی ډارید ل
هر نا مد ا ر او یرغلګر د لته سر خپل خوړلي
هیڅ پردی له دی وطنه روغ رمټ نه دی وتلي
د دی خا وری هره لویشته دغیرت ، همت زانګو وه
دلته شا وخوا میشته با غیرته شاه ځلمو وه
د لته پت ، د لته عزت ، د لته عزم او ویا ړ وه
چا چي ا فغا ن ته بد کتل د هغه مینه بیا ویجاړ وه
هر پردی ته دا وطن ګورستا ن اولوی جحیم وه
د ا فغا ن په سردروکی د آ زادی تا زه نسیم وه

**

څو سپک سرو ملایا نو د پردو د لاس مریا نو
دغلیم سره لاس یو کړل څو وحشی ځنا ورانو
په لمسون د بیګا نه د ا فغا ن په کور اور بل کړل
په الله و اکبر ویلو پرافغان روزګا ر غوبل کړل
دراکټو په ګذار د افغا نا نو کور وران کړل
یو ورځ نه وه هره ورځ ګذارونه په تکرار کړل
ښا ر اوکلی یي کنډ والی کړل دغلیم په حوالی کړل
تش جیبونه یی خپل ډ ک په پیسو د خزانی کړل
تر پرونه په مسجد کی چا امام نه نیول
هغه وخت چی وه طا لب خیراتونه ټولول
ملا یا نو د پیشرفت مخا لف له ډیر قد یم وه
د ا فغان په سردرو کی د آزادی تا زه نسیم وه

د ا د افغــا ن پــرسر واکدا ر پنجا بی ډلــی ټپلي
دا مــکه کــی د ا فــغا ن د ورانـــی قسم خــوړلي
دامخ توری ږیره وری دامریکي په مټ واکدارشول
څوک وزیر اوڅوک سفیر، څوک والی په مزارشول
د خلوینتو هیواد ونو ټول سرتیری کړل میشته
افغا نا ن یی په لوی لاس د دوی وکړل برمته
د ځنګل قا نون یی جوړ کړل په همت دغربیا نو
واک ته ورسید اشرار ، مجاهد او وها بیا نو
که طا لب دی که ملا ، هد فو نه سره یو دي
دوا ړه غواړی شریعت سر چینی سره یو دي
دوی د افغا ن د ویا ړنو په ځپلو کی سهیم وه
د ا فغا ن په سردرو کی دآزادی تا زه نسیم وه
**

څو اجیر جا سوس اشرار د امریکی پنجاب د ستیا ر
جا سوسی کی له یوسره ټول شو غټ سرمایه دا ر
دا دافغان په هریو ګوټ کی ټول د ځمکو غا صبا ن
له وزیره بیا نیولی تر قا ضی او قوماند ا ن
د افغا ن پر ګڼ قومونو رحم نه لری له سره
خلک هیڅ نه خلاصیږی د د و کړونو له شره
لا یی تنده نه دی ما ت هریو غواړی چی پیشوا شی
وټ له خلکوځنی غواړی هریوغواړی چی پاچا شي
وطنوالو سره یوشي دا نا ولی ټول نسکور کړي
دوی پخپله خوښه نه ځی زریی ورکه په زورکړي
بې له سره بیا کړی جوړ کوم د ګلو چی شمیم وه
دا فغان په سر درو کی د آزادي تا زه نسیم وه
** داکتر «مل» ۲۰۱۳-۱۱-۱۳جرمنی